# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعرات مورخہ 29 جولائی 2010ء بمطابق 16 شعبان 1431 ہجری سہ پہر چار بجکر تیس منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر، کرامت اللہ خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ ٱلشَّیۡطَـٰنِ ٱلرَّجِیمِ۔ بِسۡمِ ٱللهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِیمِ۔

یَـٰٓأَیُّهَا ٱلَّذِینَ ءَامَنُواْ ٱسۡتَعِینُواْ بِٱلصَّبۡرِ وَٱلصَّلَوٰةِ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِینَO وَلَا تَقُولُواْ لِمَن یُقۡتَلُ فِی سَبِیلِ ٱللَّهِ أَمۡوَٰتُۢ بَلۡ أَحۡیَآءٌ وَلَـٰكِن لَّا تَشۡعُرُونَO وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَیۡءٍ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٍ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِ وَبَشِّرِ ٱلصَّـٰبِرِینَO ٱلَّذِینَ إِذَآ أَصَـٰبَتۡهُم مُّصِیبَةٌ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَیۡهِ رَٰجِعُونَO أُوْلَـٰٓئِكَ عَلَیۡهِمۡ صَلَوَٰتٌ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٌ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ۔

(ترجمہ): اے ایمان والو صبر اور نماز سے مدد لیا کرو بے شک خدا صبر کرنے والوں کے ساتھ ہے۔ اور جو لوگ خدا کی راہ میں مارے جائیں ان کی نسبت یہ کہنا کہ وہ مرے ہوئے ہیں (وہ مردہ نہیں) بلکہ زندہ ہیں لیکن تم نہیں جانتے۔ اور ہم کسی قدر خوف اور بھوک اور مال اور جانوں اور میووں کے نقصان سے تمہاری آزمائش کریں گے تو صبر کرنے والوں کو (خدا کی خوشنودی کی) بشارت سنا دو۔ ان لوگوں پر جب کوئی مصیبت واقع ہوتی ہے تو کہتے ہیں کہ ہم خدا ہی کا مال ہیں اور اسی کی طرف لوٹ کر جانے والے ہیں۔ یہی لوگ ہیں جن پر ان کے پروردگار کی مہربانی اور رحمت ہے۔ اور یہی سیدھے رستے پر ہیں۔

## اراکین کی رخصت

<u>جناب سپیکر</u>: ان معزز اراکین نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں: جناب ارباب محمد ایوب جان، وزیر زراعت 2010-07-29 تا2010-07-31; جناب پرنس جاوید صاحب 2010-07-29 تا2010-07-30; جاوید خان ترکئی 2010-07-29تا2010-08-06; جناب وجیہہ الزمان صاحب 2010-07-29 تا2010-07-30; مولوی عبیداللہ خان صاحب 2010-07-29 تا -05-08-2010; ثاقب اللہ خان چمکنی صاحب 2010-07-29 کیلئے; احمد خان بہادر صاحب 2010-07-29 کیلئے; جاوید خان عباسی صاحب2010-07-29 کیلئے۔

Is it the desire of the House that the leave may be granted?

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker</u>: The leave is granted.

میں اپنی طرف سے اور پورے ہاؤس کی طرف Society for the Protection of the Rights of Child کے بچوں اور سٹاف، آپ سب کو ہاؤس میں آنے پر خوش آمدید کہتا ہوں۔

(تالیاں)

## سیلاب سے پیدا شدہ صورتحال اور حکومتی اقدامات

<u>جناب سپیکر</u>: جی۔

<u>جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ</u>: جناب سپیکر صاحب!

<u>جناب سپیکر</u>: آپ سے پہلے اکرم خان درانی صاحب۔ پہلے لیڈر آف دی اپوزیشن تھوڑی بات کر لیں، جناب اکرم خان درانی صاحب۔

<u>جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف)</u>: محترم سپیکر صاحب، ستاسو ډیره مننه۔ محترم سپیکر صاحب، زمونږه په صوبه باندے د پرودګار د طرف نه، د داسے تکلیفاتو سره د دے صوبے دا عوام مخامخ دی چه د یو تکلیف نه بل تکلیف چه دے هغه ډیر زورآور وی۔ ډیر تکلیف ده وی او حقیقت دا دے چه عوام داسے تنګ شوے دی چه بس خدائے ته به سوال کوؤ او د هغه نه به رحم غواړو۔ اوس جی دا حالیه ګرمی چه وه او په هغے کښے چه د لوډ شیډنګ کوم انداز وو، هغه هم بالکل جی داسے ناروا وو چه ناقابل برداشت وو او په سوؤنو خلق د ګرمئ د لاسه دلته مړه شول او بیا خلقو دعاګانے کولے چه خدایا پاکه! د رحمت باران

اوکړے او پرودګار رحم اوکړو نو اوس هغه باران هم داسے زحمت په زمکه باندے راغے جی چه د پختونخوا جی ځلیرشت ضلعے دی او یوه ضلع جی داسے نه ده پاتے په دے پختونخوا کښے چه په هغے کښے مرګونه نه وی شوے۔ په هره ضلع کښے جی په سوؤنو کورونه وروان شوے دی او دے ځائے ته جی زمونږه هغه تور سرے مخامخ شوے دی چه ورته د سر سورے هم نشته دے۔ هم دغسے په دے باران کښے جی بهر پراته دی او د فصلونو نه جی د چا ډیر امیدونه وو چه مونږه ته به د دے نه د کال څه آمدن راځی، هغه فصلونه هم داسے تباه شوے دی جی چه د زمکے په مخ باندے بالکل په هغے باندے خاورے دی او اوبه دی، نو اوس جی په دے هنګامی صورتحال کښے د ټولو خلقو، د عوامو سترګے دی په خپل صوبائی حکومت باندے او بیا په خپل مرکزی حکومت باندے چه په دے سخته کښے، په دے تکلیف کښے به زمونږه چه څومره تکلیفات دی د هغے مداوا کوی۔ که هلته د دوائی ضرورت وی جی، که هلته د خوراک ضرورت دے، که هلته د ټینټونو ضرورت دے او که په ایمرجنسی کښے بیمارئ لګیدلی وی په بعضے اضلاع کښے چه کومو کښے ډیرے اوبه راغلے دی، په هغے کښے د ډاکټرانو ضرورت دے، نو په دیکښے به زۀ ستاسو په وساطت صوبائی ګورنمنټ ته داخواست کومه چه که چرته دوئ، چوبیس اضلاع دی او په چوبیس اضلاع کښے نن ډپټی کمشنر دے یا ډی سی او دے یا کمشنر دے، هغه بےاختیاره دے جی، که دوئ هغوی ته اختیارات ورکړی ځکه چه هغوی دلته کښے رپورټ رالیږی او د صوبائی ګورنمنټ نه'اپرووول' اخلی نو هلته به د تکلیف نه خلق دے ځائے ته رسیدلے وی چه وروستو به د دے مدد هډو هیڅ ضرورت نه وی هغے خلقو ته، نو که دوئ یو فیصله اوکړی او هلته ضلعے ته دا اختیار ورکړی چه د چا کور وران شوے وی نو هغوی ته د ټینټ انتظام اوکړی، چه د چا کور کښے د خوراک ضرورت دے نو د هغوی د خوراک د انتظام اوکړی، چه کوم ځائے کښے د دوایانو ضرورت وی نو هلته کښے د دوایانے اولیږی، چه کوم ځائے کښے د ډاکټر ضرورت دے، هلته کښے د ډاکټر ضرورت د پوره کړی، نو په دے بنیاد که هغوی ته دا اختیار ملاؤ شی نو په هره ضلع کښے دومره فنډ شته چه هغه به په ایمرجنسی کښے هغه خپل اختیار استعمال کړی او

بروقت به جي خلقو ته امداد ورکړي او بيا جي داسے غربيانان خلق دي چه د
هغوي کورونه وران شوے دي، په ريليف کښے د هغوي تيس هزار دي يا ايک
لاکھ روپئ دي، چه څومره دي که هغه هم په هنګامي بنيادونو باندے جي، دلته
صوبائي ګورنمنټ ته چه رپورټ راشي او د هغے ريليز هم په هنګامي بنيادونو
باندے اوکړي نو هغے خلقو ته به دومره څه ورشي جي۔ بل جي داسے شوے دي
خصوصاً ايريګيشن او سي اينډ ډبليو، که د دے منسټر په هنګامي بنياد باندے
خپل سيکرټري سره يو ميټنګ اوکړي او څومره، هلته د روډونو بالکل رابطے
کټ دي جي، اوس د مدين او د کالام په مينځ کښے رابطه کټ ده، د سوات او
پيښور او ورسره دلته دا ستاسو د کلو ايرياز چه دي نو دا هم د پيښور سره کټ
شوے دي او زمونږه سدرن ډسټرکټس چه دي نو په هغے کښے اکثر ضلعے چه
دي، د هغے خپلو کښے رابطه کټ ده، نو که چرته کښے کوم ځائے 'برج' دے،
پل دے د هغے نه اوبه راتاؤ شوے دي او اوس د هغے دا انداز دے چه دا چهت
به هم اوغورزيږي، نو که په ايمرجنسي کښے هغے ته بند اولګي نو هلته به هغه
باقي 'برج' چه دے، هغه پل به بچ شي۔ داسے جي د ايريګيشن نالے چه هغه ټولے
د خړو اوبو نه او ختو نه ډکے شوے دي او بالکل هغه فصلونه تباه دي، نو زما به
دا ګزارش وي جي چه په هنګامي بنيادونو باندے او چه ټائم ورباندے اونه لګي
او دلته ما ته د ګورنمنټ، زمونږه شکر دے ټول منسټران دي او دوه زمونږه
سينيئر منسټران دي، د چيف منسټر په Behalf باندے دلته په ديکښے دا فيصله
اوکړي او اعلان اوکړي چه هر يو ډي سي او او کمشنر ته اختيار هم ورکړي او په
هنګامي بنيادونو باندے ايريګيشن، پبلک هيلتھ د اوبو د څښکلو لائنونه جي
ختم شوے دي چه چرته ټيوب ويلونه دي، هغه Damage شوے دي او لوے نقصان
شوے دے۔ دا به جي دلته کښے دوئ اوکړي او زما يو بل په ديکښے خواست
دے چه که تاسو اجازت اوکړئ او مونږ يو قرارداد راوړو او په هغے کښے د
وفاقي حکومت نه مونږ د امداد ګزارش هم اوکړو ځکه چه دا دومره لوړ
نقصانونه دي، دومره غټ نقصان شوے دے جي چه هغه صوبائي ګورنمنټ ټول
پوره کوي نو هغے ته به هم ډيره ګرانه وي، نو زما به دا درخواست وي چه تاسو
پخپله ذريعه، صوبائي ګورنمنټ ډائريکټ د پرائم منسټر سره هم خبره اوکړي او

مونږه په شریکه باندے چه دلته کښے څوک مړه شوے دی جی، د هغوی په کورونو کښے غم دے ، د هغوی هم په ریلیف کښے خپلے پیسے دی چه څوک په اوبو باندے مړ شی یا هنگامی داسے دغه اوشی او زخمیان هم دی نو په دے باندے جی زما دا گزارش دے چه نن ټول دغه وخت مونږه دے ته ورکړو۔ ډیر لوے تکلیف دے ، ډیر لوے مصیبت دے او په دیکښے په هنگامی بنیادونو باندے ، دلته ایم پی ایز دی، منسټرز دی، هغه د خلقو د وجے نه خپلو ځایونو ته نه شی تلے۔ د هغوی په حجرو کښے ، د هغوی په چوکونو او هلته کښے په کلی کښے دومره خلق ورته ناست دی او که د دوئ په لاس کښے څه نه وی جی نو دوئ عوامی مشران دی، دوئ به د خلقو سره څنگه مخامخ کیږی؟ زۀ ستاسو هم ډیره شکریه ادا کوم او یو ځل بیا خواست کوم گورنمنټ ته چه په دیکښے په هنگامی بنیادونو باندے دوئ کار اوکړی او دلته د هغے اعلان هم اوکړی۔

جناب سپیکر: اکرم خان درانی صاحب چه څه اوفرمائیل، زۀ خپله اوس راتلمه په موټروے باندے او ما ډیر زبوں حالت اوکتلو چه د مردان نه د پیښور د دے دغه پورے چه کوم حالت دے نو انسانان په کوټو باندے ټول ولاړ دی۔ دا درنے آبادئ چه څومره دی او دومره زیاتے اوبه روانے دی چه باره چوده فټ ژورے اوبه روانے دی۔ دا موټروے پولیس ما سره وو، پوره درے گهنټے زۀ په موټروے ولاړ وومه او زۀ ئے په حساب نه پوهیدمه۔ یو خو د موبائل فونز رابطه کټ وه، نو حقیقت دا دے چه زما په خیال زمونږه په دے صوبه کښے دومره شدید انداز کښے داسے سیلاب او داسے طوفان مونږه چرته نه دے لیدلے دا چه کوم دے ځل دے ، نو زما یقین دے چه حکومت به خامخا څه کړے هم وی او بشیر بلور صاحب نه یا د رحیم داد خان نه، دوئ کښے چه هر یو مونږ ته وائی نو حکومت چه کوم تر دے وخته پورے Steps اغستلے دی چه هغه هم را ته اووائی۔ ما خپله هم د سندهـ چیف منسټر سره او سپیکر راسره رابطه اوکړه ، هغوی هم د هغه ځائے نه څه کشتئ مشتئ Arrange کوی را ته، خو دا یو ډیر آرگنائز طریقے سره، دیکښے اوس د اپوزیشن او د حکومت سوال نشته، دا انسانی همدردی ده او ټوله صوبه باندے یو آفت دے۔ د دے د پاره که تاسو په خپلو کښے کښینئ بجائے د دے چه اوږده اوږده تقریرونه کوئ نو دا د اوږدو تقریرونو زما په خیال

وخت نه دے ، Immediate relief ورکول دی چارسدے ته خصوصاً، د چارسدے ډیر Miserable حالت دے۔ ما چه څه واوریدل، لس لس فټه اوبه په ټولو دغه کښے گرځی، نو زهٔ د حکومت نه صرف لږ اول اوریدل غواړو چه دوئ څه کړے دی؟

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: جناب سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: سکندر خان! تقریرونو ته مو نه پریږدمه۔ نه تاسو به کښینئ او تر ما ښامه به کښینئ چه څه لاره رااوباسئ نو هله به ځئ۔

(شور/قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: هغوی نه اورو، ما درته اووئیل جی، په تقریرونو خبرے نه کیږی، په خبرو باندے خبره نه خلاصیږی، دا به کښینئ جی۔ اول د حکومت خپل پروگرام اوښائی مونږ ته چه دوئ څه کړے دی؟ د هغے نه پس به دلته تر هغے زما سره په چیمبر کښے دا ټول به کښینی، وزیران صاحبان او تاسو هم او چه څه حل رااوباسئ نو اول د دوئ نه واورو۔

(شور/قطع کلامیاں)

جناب سپیکر: اول د دوئ نه واورو جی، اول د دوئ نه واورو جی نو بیا به خبره کوؤ۔ جی، جناب بشیر بلور صاحب۔

جناب بشیر احمد بلور {سینئر وزیر(بلدیات)}: ډیره مهربانی سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر صاحب، اول خو د ټولو نه مخکښے پرون چه د جهاز د کریش کیدو کومه واقعه شوےده، د هغوی سره د همدردئ اظهار کوؤ او الله تعالیٰ د د هغوی پسماندگانو ته د صبر توفیق ورکړی۔ دویمه زمونږ دے صوبه کښے چه کوم سیلاب راغلے دے نو هغے تقریباً پچاس فیصد پلونه وړے دی او مونږه د هرے ضلعے ډی سی او ته د ایک بلین روپو فنډز ورکړے دی او ورته مو وئیلے دی چه چرته هم ضرورت وی نو هلته د فوری طور باندے کار شروع کړی او زهٔ وایم چه تقریباً د اربونو روپو نقصان اوشو۔ د حکومت هم نقصان اوشو او د خلقو هم نقصان اوشو چه مونږه به کله بیا دا پلونه جوړوؤ او دا لارے به جوړوؤ نو زما خیال دے چه زمونږه ټوله اے ډی پی به هم په دے باندے خرچ شی۔ سپیکر

صاحب، زۀ پخپله تلے ووم دے بډهنئ ته، تاسو که چرته لاړئ، نو ما خلق اولیدل چه بره د کوټو په سرونو ناست دی او غریبانانو ته هیڅ دغه نشته۔ ما د هیلی کاپټر ریکویسټ اوکړو، هیلی کاپټر مو لاړو نو د هیلی کاپټر د کوځیدو ځائے نشته۔ زمونږ سره دلته کښے ټول اکتالیس'بوټس' وو حکومت سره او هغه اکتالیس'بوټس' مونږه ورکړل نو بیا Immediately وزیر اعلیٰ صاحب پیسے اولیږلے کراچئ ته او د کراچئ نه مونږه تقریباً ففټی'بوټس' چه دی هغه مو پرچیز کړل او ریکویسټ مو آرمی ته اوکړو نو سی ون تهرټی جهاز کښے ، هغوی وئیل چه زر تر زره به دا اورسیږی۔ سی ون تهرټی کښے چه هغه ډیر پکښے راځی او سامان پکښے ډیر راځی نو پچاس هغه مونږه غواړو خو خدائے د اوکړی چه زر تر زره رااورسی، ولے چه هلته خو داسے اوبه روانے دی، خلق کورونو کښے ناست دی، ماشومان دی، بچی دی، ډیر لوے تکلیف دے او مونږ کوشش کوؤ چه زر تر زره رااورسی۔ سپیکر صاحب! بل ورسره مونږ دا هم وئیلے دی ټول حکومتی اهلکارو ته، که هغه ډاکټران دی، که هغه ایریگیشن ډیپارټمنټ دے ، که هغه لوکل گورنمنټ ډیپارټمنټ دے ، که هغه سی اینډ ډبلیو ډیپارټمنټ دے ، میاں صاحب اوس پریس کانفرنس هم اوکړو او هغے کښے هم مونږ ورته وئیلے دی چه یره مهربانی اوکړئ، دا د هر چا د پاره تکلیف دے او چرته چه د چا څه نه څه وس وی، هغه ته د حکومت د طرف نه هدایت دے چه زر تر زره خپل ځان اورسئ او د خلقو چه کوم پرابلمز دی هغه حل کړئ او مونږ دا ورسره ورسره۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر</u>: Excuse me جی، بشیر بلور صاحب! یو تپوس کول غواړمه، دا تاسو چه دلته پی ډی ایم اے ، پراونشل۔۔۔۔

<u>Senior Minister (Local Government):</u> Disaster Management.

<u>جناب سپیکر</u>: په هغے کښے د شپږ اته سوه تنو بهرتی هم شوے وه، دغه خلق څه د کار اوختل، د هغے نه څه جوړ شو؟

<u>سینیئر وزیر(بلدیات)</u>: جی، هغه صرف تین سو کسان وو، 1122 (Rescue) کښے مونږه اغستے وو او هغوی ټول خپلو خپلو علاقو کښے کار کوی لگیا دی۔ هغوی تلے دی د ایمرجنسی هغه چه کوم دی او دیکښے ورسره تاسو ته دا عرض اوکړم

سپیکر صاحب! چه مونږه سیاسی تنظیمونو او دے غیر سیاسی تنظیمونو ټولو ته خواست کوؤ چه مهربانی اوکړئ، دا یوازے د حکومت کار نه دے، زمونږه د ټولو بچی دی او دا ټولے علاقے چه دی دا تباه کیږی، چه دیکښے مونږه زر تر زره خپل ځان اورسوؤ او د خلقو هر څنګه چه امداد کیدے شی هغه اوکړو۔ سپیکر صاحب! 1929ء کښے چه کوم سیلاب راغلے وو نوښار کښے نو دا دے وخت کښے د هغے نه ډبل اوبه روانے دی او دا ماښامه پورے، ایریګیشن ډیپارټمنټ مونږ ته دا اطلاع راکړے ده چه ماښامه پورے به دا اوبه نورے هم ډبل شی، نو دا یو لاکھ کیوسک خو اوس هم زیاتے روانے دی خو بیا تقریباً ماښام پورے یو لاکھ کیوسک به نورے هم زیاتے شی، نو تاسو سوچ اوکړئ چه 1929ء کښے ټول نوښار ډوب شوے وو او دا دوباره د هغے نه ډبل روانے دی۔ نو رښتیا خبره دا ده چه د حکومت خپل ځومره وسائل دی، ځومره 'مین' پاور دے مونږ ټول دیکښے دغه کړے دی چه هر څنګه چه وی چه چا ته مونږه اورسیږو او څه خدمت اوکړو خو دے علاقو کښے د خدائے اوکړی، مونږه خدائے ته سوال کوؤ چه دا باران نور اونه شی او نور امتحان مونږ نه وانه خلی، مونږه نور د امتحان جوګه نه یو۔ مخکښے بلاسټونو باندے زمونږه صوبه کښے خلق شهیدان شول، صوبه تباه شوه او فنانشلی مونږ ته ډیر زیات Loss اورسیدو او اوس ورسره دا باران داسے شو چه دیکښے داسے سیلاب، خلقوباران غوښتے وو څنګه چه زمونږ درانی صاحب خبره اوکړله چه خلقو خو باران غوښتے وو خو زما خیال دے چا دعا کښے ئے دا نه وو وئیلے چه خدایا! د رحمت باران اوکړے۔ دومره باران اوشو چه اوس مونږ دا باران نه شو سنبهالولے، نو زما به دا خواست وی تاسو ته چه مولانا صاحب ته اووایئ چه مهربانی اوکړی او د دے 152 کسانو د پاره، چه کوم کسان پرون شهیدان شوے دی چه د هغوی د پاره هم دعا اوکړو او دا 106 کسان چه دا کوم زمونږ شهیدان شوے دی، اوس نن دے سیلاب کښے نو د هغوی د پاره هم دعا اوکړو۔

<u>جناب سپیکر</u>: نن ځومره وفات شوے دی؟

<u>سینئیر وزیر(بلدیات)</u>: 106 نن پورے، Hundred and six

<u>جناب سپیکر</u>: 106 اوسه پورے دی۔

سینیئر وزیر(بلدیات): بالکل 106 کسان زمونږه شهیدان شوے دی دے سیلاب کښے ، پرون او نن سیلاب کښے۔ زۀ ورته د حکومت د طرف نه دا تسلی ورکوم چه کمشنر ، ډپټی، ډی سی اوز ته مکمل اختیارات دی او مکمل پیسے مونږ ورله ورکړے دی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: هغوی سره فنډز شته؟

سینیئر وزیر(بلدیات): او چرته چه دا سے پرابلمز وی۔

جناب سپیکر: فنډز ورسره Available دی جی؟

سینیئر وزیر(بلدیات): جی فنډز ورته Available دی او چرته چه پرابلم وی نو مونږ ته د اووائی، مونږه به د هغوی سره خبره کوؤ۔ ما ته اوس ایریګیشن منسټر صاحب دوئ زما۔۔۔۔۔

محترمه نگهت یاسمین اورکزئی: جناب سپیکر!

سینیئر وزیر(بلدیات): چه زه خبره ختمه کړم، زۀ خبره ختمه کړم نو بیا بے شکه تاسو خبره کوئ۔

جناب سپیکر: او د ریړئ جی، یو منټ۔ دا خو د جرګے په شکل کښے یو خبره کوؤ۔

سینیئر وزیر(بلدیات): ایریګیشن منسټر صاحب اوس دا خبره اوکړه چه نوښار کښے ، هغه وائی چه ما ته پیسے نه دی ملاؤ شوی، ما Immediately ټیلی فون اوکړو، هغه وائی چه لس لکهه روپئ خو مونږ ټولو ته د مخکښے نه ورکړے وے ، ټول ډی سی اوز ته او پنځوس لکهه روپئ مونږ ورته سحر لیږلے دی۔ پیسے چرته چه نه وی مونږ ته بالکل حکم اوکړئ، پیسے به هلته مونږه رسوؤ او ما کامران د چارسدے ډی سی او سره خبره اوکړه، هغه وائی چه ما ته شپیته لکهه روپئ رسیدلے دی، حکومت ته د پیسو پرابلم نشته، مونږ ته صرف د دے 'بوټس' پرابلم دے او د خلقو د ویستلو پرابلم دے او که دا خدائے اوکړی چه دا 'بوټس' مونږ ته رااورسیږی نو انشاء الله دا مسئله به حل کړو خو دا هم دعا کوؤ چه خدائے مه کړه، الله د اوکړی چه نور باران اونه شی او دا چه کومے ریلے روانے دی، خدائے د په خیر خیریت تیرے کړی چه د دے نه زیات Damage

اونه شی څومره چه زمونږه Damage اوشو۔ په اربونو روپو د خلقو جائیداد تباه شو، د خلقو هغه فصلونه تباه شول، د خلقو پکښے بچی مړه شول نو د دے د پاره، ډیر لوے غم دے او دیکښے به تاسو ته زهٔ خواست اوکړم چه یو دعا خا مخا دواړو ته، هغوی ته هم او دوئ ته هم دعا اوکړئ او که د دوئ څه سوال وی نو په سر سترګو به جواب ورکړو۔

جناب سپیکر: نه بشیر بلور صاحب! دا دعا خو کوؤ خو دلته تاسو به کښینئ تر هغے پورے، ولے چه ما څه حده پورے په خپلو سترګو اولیدل، نه خوراک هلته شته او نه د ویستو ذریعه شته، د دے د پاره به څه لار اوس ګورئ۔

سینیئر وزیر(بلدیات): د ویستو خو ما، د ویستو خو ما تاسو ته عرض اوکړو چه مونږ سره صرف اکتالیس-----

جناب سپیکر: دا دلته تش په تقریرونو، تا نه پریږدمه جی، تقریرونه نشته، عملی شکل کښے د دوئ نه به کار اخلئ، حکومت سره به کښینئ۔

سینیئر وزیر(بلدیات): مونږ سره اکتالیس 'بوټس' دی، هغه ټول چه دی نوښار او چارسدے ته مونږه لیږلے دی۔

محترمہ نگہت یاسمین اورکزئی: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: نه، تقریر نشته جی-----

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: هں جی؟

سینیئر وزیر(بلدیات): مونږ سره اکتالیس 'بوټس' دی، هغه مونږ چارسدے او مردان ته لیږلے دی او چه کوم دلته مونږه سره 'بوټس' -----

جناب سپیکر: په دغه څلورو، نه په دے 'بوټس' خو کار نه کیږی۔

سینیئر وزیر(بلدیات): نه، نورے پنځوس مونږ د کراچئ نه غوښتے دی او ما تاسو ته اووئیل چه سی ون تهرټی کښے راځی۔

(شور)

جناب سپیکر: اودریږئ کنه، زهٔ ستاسو په ځائے لګیا یمه جی، زهٔ د حکومت نه Explanation غواړم کنه۔

محترمه نگهت یاسمین اورکزئی: جناب سپیکر! زهٔ په موټروے راروانه وومه او دلته چه کله۔۔۔۔

(شور)

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: ما له یو دوه منټه راکړئ۔

(شور)

سینیئر وزیر (بلدیات): نو تقریرونه به اوکړئ او څه چل به ترے جوړ نه شي۔ پکار دا ده چه داسے څه ټهوس، ټهوس تجویز راته راکړئ نو مونږ به پرے په دواړو سترګو باندے عمل کوؤ، چه څه ټهوس خبره راته اوکړئ، مونږ به پرے عمل کوؤ جی۔

جناب سپیکر: دا، ښه جی، دا فلډ سیچویشن پرویز خان! تاسو اووایئ خو عملی شکل کښے د دے د پاره څه شکل ویستل دی، تش په خبرو باندے تاسو هم نه خلاصیږئ۔ دا وخت دے، دا موقع ده چه تاسو د دے خپلو خلقو خدمت اوکړئ او دیکښے نه د اپوزیشن سوال شته او نه د ګورنمنټ د بنچونو سوال شته۔ جی دا اوس Latest څه پوزیشن دے، تاسو څه وایئ؟

جناب پرویز خټک (وزیر آبپاشی): جناب سپیکر صاحب، نن چه کوم حالات دی، هغه ډیر زیات Tense دی ځکه چه کوم ریکارډ مونږ، کوم ریکارډ چه ما سره موجود دے، سحر اته بجے پورے چه کوم سیچویشن وو هغه۔۔۔۔

جناب سپیکر: پرویز خان! لږ تیز وایه، زهٔ ئے نه اورم نو دوئ به ئے څه اوری؟

وزیر آبپاشی: د سوات 'ریور' په امان دره کښے په 1929ء کښے ایک لاکھ ستر هزار کیوسک، اوس دے وخت کښے دو لاکھ پنستھ هزار کیوسک سحر لس بجو پورے وو۔ بیا سوات 'ریور' چه کوم دے جی 162 په 1965ء کښے وو او اوس ایک لاکھ چھبیس هزار کښے روان دےجی۔ پنجکوړه 'ریور' دیر تلاش 2005 کښے Forty thousand وو او اوس ایک لاکھ دے جی۔ بډھنی نالا چه

کومه ده Latest position دا دے چه ایک لاکھ تئیس هزار Maximum دیکښے چلیدلے او اوس دو لاکھ کیوسک ته اورسیدو جی۔ جندی'ریور' ستره هزار وو اوس اتهاره هزار کښے روان دے جی۔ کرم گړهی هیډ ورک بنوں پرون دویم هائی دغه ته روان وو Ninety thousand ته لاړو، اوس نارمل شوے دے، Eighteen thousand دے جی۔ کوهاټ توئی چه کوم دے د هغے ریکارډ زوړ مونږ سره نشته او اوس five thousand کښے روان دے جی۔ باړه'ریور' ترناب سوله هزار نو سو باره وو 1991ء کښے اوس Thirteen thousand دے جی او کابل'ریور' چه دے جی، دا اوس دے فلډ حالات کښے ، Maximum دیکښے 169 چلیدلے دے اوس 164 کښے سحر اته بجے لگیا وو لیکن د بره سوات او د دیر اوبه تقریباً ډهائی لاکھ کیوسک نورے راروانے دی نو بیگاه پورے به دا فلډ اوس چه کوم پوزیشن دے، دا به دے نه ډبل پوزیشن ته لاړ شی، تقریباً ډهائی لاکھ کیوسک اوبه نورے پکښے 'ایډ' کیږی، نو مسئله دا ده چه اول نه اول خو دلته پریس والا هم ناست دی، ټی وی سسټم، زهٔ هغوی ته هم دا ریکویسټ کوم چه کوم ځائے کښے 'ریورز' دی، کوم ځائے کښے فلډ لگیا دے چه هر یو کلے د خالی شی۔ مونږه پخپله اناؤنسمنټ کړے دے او ډی سی اوز لگیا دی خو زمونږ پخپله هم دا فرض دی چه پریس هم دا ټی وی کښے راولی چه چرته اوبه وی، چرته د کابل'ریور' او د سوات سائډ نه چه کومے اوبه راروانے دی نو Next 24 hours کښے به دا ډیر Dangerous level ته تلے شی چه دا د 1929ء کوم فلډ وو د هغے نه ډبل اوبه راروانے دی۔

<u>جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ</u>: سپیکر صاحب! دا دوئ څه۔۔۔۔

(قطع کلامیاں)

<u>محترمه نگہت یاسمین اورکزئی</u>: نو دا حکومت څه داسے بندوبست کړے دے چه یره دا دومره زیات فلډ راروان دے۔۔۔۔۔

<u>وزیر آبپاشی</u>: حکومت، گوره جی بندوبست د پاره خو اول، اول خو دا ده چه خلق۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر</u>: پرویز خان! نه دا گیر چاپیره اوبه تاؤ دی او د ووتو بندوبست۔۔۔۔

وزیرآبپاشی: او به تاؤ دی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: ھں؟

وزیرآبپاشی: او او به تاؤ دی جی، تاؤ را تاؤ۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: گیر چاپیره ترے او به۔۔۔۔۔

وزیرآبپاشی: د ووتو لاره نشته دے۔ زما خپله حلقه کښے پینځه کلی دے وخت کښے اوبو کښے ډوب دی۔ دواړه طرف ته اوبه روانے دی، نه د دے مخے ځوک تلے شی او نه د هغه مخے، نو دا خو اوس د الله تعالیٰ یو۔۔۔۔۔

محترمہ نگہت یاسمین اورکزئی: سپیکر صاحب! زهٔ خپله هم په موټر وے باندے دے بډهنئ سره جندی طرف ته راروانه وومه نو هلته ما اوکتل چه یو دوه ښځے اوبو یوړے او ماشومان ورته ولاړ وو، هغوی ژړل۔ ما پخپله ډسی او ملاؤ کړو او ما ورته د کشتئ د پاره خبره اوکړه نو هغوی ما ته اووئیل چه مونږ سره هیڅ څه دغه نشته او د یو میجر نوم ئے راته واغستو چه تاسو د هغوی سره خبرے اوکړئ۔

جناب سپیکر: مادا په خپلو سترګو جی اولیدل، زهٔ ځکه درته وایم چه دا مونږ اوس تش په خبرو تقریرونه نه کوؤ چه اخوا لاړ شو، تاسو چیمبر ته به ځئ جی۔ اول خو حافظ اختر علی صاحب، حافظ اختر علی صاحب! دا چه نن کوم شهیدان شو د دوئ د پاره او پرون چه په جهاز کښے څومره تنان شهیدان شوے دی، د هغوی د پاره دعا اوکړئ جی۔ حافظ اختر علی صاحب۔

(اس مرحلہ پر دعائے مغفرت کی گئی)

سید محمد علی شاہ باچا: سپیکر صاحب!

جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ: مونږ ته یو دوه منټه راکړئ چه مونږه د خپلو حالاتو نه۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: تاسو به دوه، دوه منټو کښے لس تنان ولاړ یئ، ماښام به شی او ستاسو خبرے نه ختمیږی۔

(قطع کلامی)

Mr. Speaker: In exercise….

<u>جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ</u>: سپیکر صاحب! مونږ له یو دوه منټه۔۔۔۔۔

(قطع کلامیاں / شور)

<u>جناب سپیکر</u>: نه د پریس د پاره نه، عملی کار هلته، ټیلی فون ته به کښینئ۔۔۔۔۔

(اس مرحلہ پر اراکین اسمبلی، جناب سکندر حیات خان شیر پاؤ، محترمہ نگہت یاسمین اورکزئی، جناب اسرار اللہ خان گنڈاپور اور سید محمد علی شاہ باچا ایوان سے واک آؤٹ کر گئے)

<u>Mr. Speaker:</u> "In exercise of the powers conferred by clause (b) of Article 109 of the Constitution of the Islamic Republic of Pakistan, I, Awais Ahmad Ghani, Governor of the Khyber Pakhtunkhwa, do hereby order that the Provincial Assembly shall stand prorogued on Thursday, the $29^{th}$ July, 2010, till such date as may here after be fixed." Thank you.

---

(اسمبلی کا اجلاس غیر معینہ مدت تک کیلئے ملتوی ہو گیا)